# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۳/ شعبان المعظم /۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۵/ حوت /۱۴۰۱هـ، ش**

# د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لوی شأن

الحمد لله الذى امرنا بالاتباع ونهانا عن الابتداع واشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له فى العبادةکما انه لاشريک له فى الخلق والابداع واشهد ان محمداًعبده ورسوله الذى ارسله ليتبع ويطاع صلى الله عليه وعلى آله واصحابه وسائرالاتباع وسلم تسليماً کثيراً. امابعد:

مست لقاء حضرت يزدان محمد است — سر ابتداء خلقت انسان محمد است
مشتق ز نور حق شده جان مبارکش — نور وصفا رحمت سبحان محمد است
از حسن وخلق نيکويش چه گويمت — سرتا به پا آيت قرآن محـــ مد است

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دومره لوی شان لري چې دالله تعالی په مخلوقاتو کې يې بل مخلوق نلري، برابره خبره که هغه د الله تعالی مقرب ملائکې دي او که الله تعالی ته نږدې او مقرب اولياء دی او که دالله تعالی نبيان او رسولان دی.

همدا راز په آخرت کې به د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دومره لوړ مقام او شأن وي ؛ چې هغه به بل پيغمبر او نبي ته حاصل نه وي.

لکه څرنگه چې دحضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم مرتبه او شان په دنيا کې لوی دی؛ په آخرت کې به هم دحضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم شان په ټولو مخلوقاتو باندې لوی وي او دا هغه خصوصيت دی چې بل چاته حاصل نه دی.

د سرور کائنات او دعالم بشريت منجي حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د شأن لوی والی او دهغه د شخصيت مقام په لاندې ډول دی:

۱- د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دومره لوی شان دی چې الله تعالی د هغه په ژوند قسم خوړلی دی چې پرته د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه، الله تعالی پر بل پيغمبر او انسان باندې قسم نه دی خوړلی، او الله تعالی چې په کوم مخلوق قسم وخوري دا دهغه مخلوق په عظمت دلالت کوي؛ لکه چې الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايي:(لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ). الحجر: (۷۲)

ترجمه:- ستا په عمر مې دې قسم وي بيشکه دوی خامخا به خپلې مستۍ (نشه) کې سرگردان وي.

امام ابن کثير ددې آيت شريف په تفسير کې ليکلي دی:( أقسم تعالى بحياة نبيه، صلوات الله وسلامه عليه، وفي هذا تشريف عظيم، ومقام رفيع وجاه عريض). تفسير ابن کثير

ترجمه:- الله تعالی د خپل نبي په ژوند باندې قسم خوړلی دی ، په دې کې د نبي علیه السلام لوی عزت، لوړ مقام او لوی شأن دی،لکه چې حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما په دې برخه کې فرمایلي دي: الله تعالی هیڅ ذی روح مخلوق د محمدمصطفی څخه زیات عزتمند پیداکړی نه دی او ما اوریدلي دي چې الله تعالی پرته د محمد صلی الله علیه وسلم څخه د بل چا په ژوند باندې قسم نه دی خوړلی.

۲- الله جل جلاله د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د روحي او رواني تسلی لپاره دڅابنت پر وخت قسم یاد کړی دی چې دا دوړل قسم د نورو انبیاوو لپاره نه دی یاد شوی؛ لکه چې الله تعالی فرمایلي دی:{وَالضُّحَى . وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى .مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى}الضحی: (۱-۳)

ترجمه:- قسم مې دې وي په څابنت باندې او په شپه باندې کله چې قراره شي چې ته خپل رب نه پریښی یې او نه یې ( درسره) بغض ساتلی دی.

۳- د حضرت محمد مصطفی شان دومره لوی دی چې الله تعالی ورته خطاب په نبي او رسول کړی دی او د نورو پیغمبرانو په څیر یې ورته په خاص نوم خطاب نه دی کړی:{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا}الأحزاب: ٤٥.

ترجمه:- ای نبي ! بیشکه مونږ ته گواه او زیری ورکوونکی او ویره وونکی لیږلی یې.
په بل ځای کې ورته داسې خطاب کوي: {يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ}المائدة: ٤١.

ترجمه:- ای رسوله! تادې هغه کسان غمجن نه کړي چې په کفر کې یو له بل نه تلوار کوي.
په بل مبارک آیت کې ورته داسې خطاب کړی دی: {يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ}المزمل: ۱. ای په ځان پورې جامه راتاوونکیه!

په بل مبارک آیت کې ورته داسې خطاب کوي: {يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ}المدثر: ۱. ای په جامه کې نغښتونکیه.

او په کومو ځایونو کې چې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم نوم اخیستل شوی دی هلته دده د نوم سره پیوسته د رسول صفت ذکر شوی دی لکه په سورت الفتح کې: {مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ} الفتح: (۲۹) او دآل عمران سورت کې:{وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ}آل عمران:(۱٤٤).

الله تعالی په قرآن کریم کې نورو پیغمبرانو ته د هغوی په نوم سره خطاب کړی دی لکه :{يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ}اعراف:(۱۹)؛{قَالَ يَا مُوسَى إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي}اعراف(۱٤٤)؛ {يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا}هود(۷٦)؛{ إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ}:المائده(۱۱۰)

٤- الله تعالی پرته د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم نورو انبیاوو ته (نور) نه دی ویلی لکه چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي: [قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ}المائده:(۱۵) ترجمه: یقینا تاسو ته د الله له جانبه رڼا (محمدص) او روښانه کتاب راغلی دی.

۵- الله تعالی د حضرت محمد مصطفی له طرفه د هغو تهمتونو دفع په خپله کړی ده چې د مکې کفارو او مشرکینو به ده ته مجنون، شاعر او کاهن ویلی ؛ مگر که چیرې په نورو پیغمبرانو به د قوم له خوا کوم تهمت ولگید، دهغه تهمت دفع کول هغو پیغمبرانو ته سپارل شوی ؤ، هغوی به د هغه تهمت دفع په خپله کوله؛ لکه چې پیغمبرعلیه السلام ته د مجنون او ساحر

تهمت لگولی ؤ، قرآن کریم د هغه تهمت  په دفع کې وايي:{وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلاً مَا تُؤْمِنُونَ. وَلاَ بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلاً مَا تَذَكَّرُونَ . تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ}الحاقة: (٤١-٤٣).
ترجمه:- او دا دکوم شاعر خبره بيخي نه ده تاسو ډیر لږ ایمان راوړی او نه د کاهن خبره ده تاسو ډیر لږ پند اخلی دغه( قرآن) د رب العالمین نازل دي.

٦- پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم درود ويل د ګناهونو د مغفرت سبب ګرځي، خو  په نورو پیغمبرانو علیهم السلام باندې درود ويل داسې نه دی.

٧- الله جل جلاله د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم هر ډول تزکیه کړی ده، الله تعالی د هغه صلی الله علیه وسلم د عقل تزکیه کړی ده. {مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى}النجم: (٢)ترجمه: ستاسو ملګری نه ګمراه شوی دی او نه (په عقیده کې)بې لارې شوی دی.

الله تعالی د هغه د خبرو تزکیه کړی ده:{وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى}النجم: ٣.ترجمه: اودی  له خپل خواهش نه خبری نه کوي.

الله تعالی د هغه صلی الله علیه وسلم د علم تزکیه کړی ده:{عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى}النجم: ٥.ترجمه: ده ته (دا) د ډیر سختو قوتونو والا(جبريل) ښودلی دی.

الله تعالی د هغه صلی الله علیه وسلم د زړه تزکیه کړی ده:{مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى}النجم:١١.ترجمه:دده(نبي)زړه غلط شوی نه دی په هغه څه کې چې ده ولیدل.

الله تعالی د هغه صلی الله علیه وسلم شأن او ذکر اوچت کړی دی:{وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ}الشرح:٤.ترجمه:اوتا لپاره مو ستا ذکر اوچت کړ.

عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمايې : ددې آيت څخه مراد دادی الله تعالی فرمايې چې زه به نه يادیږم ؛ مګر ته به راسره یوځای یادیږې لکه په آذان کې ، په اقامت او تشهد کې ، دجمعې په ورځ په منبرونو باندې ، په اخترونو کې، دتشریق په ورځو کې ، دعرفې په ورځ کې، د جمراتو د ويشتلو پر وخت، په صفا او مروه کې، د نکاح په خطبه کې ، د ځمکې په شرق او غرب کې په هرځای کې.[الجامع لأحکام القرآن للقرطبی]

٨- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په ټولو پیغمبرانو کې غوره پیغمبر دی. پیغمبر علیه السلام په يو حدیث کې فرمايلي دی:( أَنَا سَيِّدُ الْقَوْمِ يَوْمَ القِيَامَةِ). صحيح البخاري ترجمه: زه به د ټولو خلکو سردار یم په ورځ د قیامت.

په يو بل حدیث شریف کې راځي:(أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلاَ فَخْرَ) سنن الترمذي.ترجمه: زه به د آدم علیه السلام د اولاد سردار یم د قیامت په ورځ او په دې فخر نه کوم.
٩- د حضرت محمد مصطفی نافرماني سبب جهنم دی:(وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ) [النساء:(١٤)  ترجمه: او چاچې د الله او ده هغه د رسول نافرماني وکړه او دهغه (الله) له حدونو نه مخکې تیر شول نو هغه (الله) به يې اور ته داخل کړي چې په هغه کې به همیشه وي او دهغه لپاره سپکوونکی عذاب دی.

١٠- محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم رحمت دی د ټولو مخلوقاتو لپاره: (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)الانبياء: (١٠٧)

ترجمه:- او مونږ ته نه يې ليږلی؛ مګر د عالمونو لپاره رحمت.

۱۱- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په اخلاقو کې د لوی شأن څښتن ؤ. الله تعالی محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په عالي اخلاقو پیدا کړی دی او په قرآن کریم د هغه د اخلاقو ستاینه شوی ده:{ وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ}القلم: ٤
ترجمه:- او بیشکه چې ته یقینا په ډیرو لویو اخلاقو باندې (فائز) یی.

۱۲- الله تعالی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته حوض کوثر ورکړی دی: (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ) الکوثر: (۱)
کله چې د کوثر سورت نازل شو نبي علیه السلام خپلو اصحابو ته وویل: ( أتدرون ما الكوثر؟ فقلنا الله ورسوله أعلم قال فإنه نهر وعدنيه ربي عز وجل). صحیح مسلم
ترجمه:- آیا تاسو پوهیږئ چې کوثر څه ته ویل کیږي؟ مونږ ورته وویل: الله او دهغه رسول ښه پوهیږي.نبی علیه السلام وفرمایل: کوثر په جنت کې نهر دی چې ماته الله دهغه وعده راکړی ده.

۱۳- د حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم شأن دومره لوی دی چې الله تعالی آسمانونو او سدرة المنتهی ته وغوښت او په دغه سفر کې یې له پیغمبرانو سره ولیدل چې دا اعزاز او اکرام نورو پیغمبرانو ته نه دی په برخه شوی.

(سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) الاسراء: (۱)

ترجمه:- هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده یې د شپې په یوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصی) چې مونږ د هغه نه گیرچاپیره برکت اچولی دی، ددې لپاره چې مونږ هغه ته له خپلو نښو څخه ځینې وښایو، بیشکه هم هغه ښه اوریدونکی ، ښه لیدونکی دی.

۱۴- د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په طاعت کې دالله تعالی طاعت پروت دی او دهغه په نافرمانۍ کې دالله تعالی نافرماني پرته ده:{مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا} النساء:(۸۰)

ترجمه:- چاچې د رسول طاعت وکړ؛ نو یقینا هغه دالله تعالی طاعت وکړ او څوک چې (له اطاعت نه) وگرځیده ، نو ته مونږه پر هغوی باندې ځارونکی (نگهبان) نه یې لیږلی.

۱۵- په قیامت کې به حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په خپل امت او په نورو امتونو گواه وي.

(فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيداً) النساء:(٤١) ترجمه: نو څه حال به وي په هغه وخت کې، کله چې مونږ له هر امت نه یو گواه راولو او تا په دوی باندې(د) گواه (په حیث) راولو.

۱٦- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دی او دده په راتللو سره د نبوت او رسالت دروازه بنده شوه.

الله تعالی فرمایلي دي:(مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا).الأحزاب: (۴۰).
ترجمه:- محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار نه دی او لیکن د الله رسول دی او د نبیانو د(لړۍ) ختمونکی دی او الله تعالی په هرشي ښه عالم دی.
۱۷- الله تعالی د ټولو پیغمبرانو څخه په عالم ارواح کې وعده اخیستې وه چې که چیرې تاسو ته محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم راغی او تاسو ژوندي وی پرهغه به ایمان راوړئ او د هغه ملاتړ او مرسته به کوئ او ټولو پر محمد مصطفی الله صلی الله علیه وسلم باندې د ایمان راوړلو او د هغه د مرستې وعده کړی وه:(وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ

وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَى ذَلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ).آل عمران: (۸۱).

ترجمه:- او کله چې الله -تعالی-د نبیانو څخه پخه وعده واخیسته چې هر هغه څه چې زه یې تاسو ته له کتاب او حکمت څخه درکړم، بیا تاسو ته یو رسول راشي چې د هغه څه تصدیق کوونکی وي چې له تاسو سره دي (نو) تاسو به پر هغه ایمان راوړئ او خامخا به دهغه مدد کوئ ، (الله) وویل: آیا تاسو اقرار وکړ او په دې باندې تاسو زما درنه وعده قبوله کړه، هغوی وویل: مونږ اقرار وکړ،(الله) وویل: نو تاسو ګواه شئ او زه (هم) تاسو سره له ګواهانو څخه یم.

۱۸-حضرت محمد مصطفی دالله تعالی خلیل او خاص محبوب دی چې دا شأن یوائې د ابراهیم علیه السلام او حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم څخه علاوه د بل چا نه دی په برخه شوی .

نبي علیه السلام فرمایلي دي: (لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا، لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا، إِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللهِ). صحیح مسلم

ترجمه:- که چیرې ما خلیل او خالص دوست نیولی؛ نو خامخا به مې ابوبکر خلیل نیولی وای او ستاسو ملګری دالله تعالی خلیل دی.

۱۹- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم هغه وخت پیغمبر ؤ چې په حضرت آدم علیه السلام کې روح نه ؤ اچول شوی ، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د حضرت ابراهیم علیه السلام دعاء او د حضرت عیسی علیه السلام زیری او د آمنه بي بي د خوب تعبیر ؤ.

عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ الْفَزَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:(إِنِّي عِنْدَ اللَّهِ مَكْتُوبٌ بِخَاتَمِ النَّبِيِّينَ، وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ، وَسَأُخْبِرُكُمْ بِأَوَّلِ ذَلِكَ: دَعْوَةُ أَبِي إِبْرَاهِيمَ، وَبِشَارَةُ عِيسَى، وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِي رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْنِي أَنَّهُ خَرَجَ مِنْهَا نُورٌ أَضَاءَتْ لَهَا مِنْهُ قُصُورُ الشَّامِ). صحیح ابن حبان

ترجمه:- د حضرت عرباض به ساریه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: زه دالله تعالی سره خاتم النبیین لیکل شوی یم په داسې حال کې چې حضرت آدم علی السلام پروت ؤ پر ځمکه او زه به درته دنبوت اوله خبره وکړم زه دابراهیم علیه السلام دعاء یم او د حضرت عیسی علیه السلام زیری یم او د خپلې مور بي بي خوب یم، هغې خوب ولید چې زه کله پیدا شم د هغې له جسم څخه داسې روښنایې ووتله چې روښانه یې کړل د شام قصرونه.

۲۰- د قیامت په ورځ به محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لومړی شخص وي چې له ځمکې څخه به راپاځیږي او د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په لاس کې به بیرغ وي او ټول پیغمبران به دده د بیرغ لاندې وي او دټولو انبیاوو امام او خطیب به وي او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم به د ټولو امتونو لپاره شفاعت کبری کوي او الله تعالی به ورته مقام (محمود) ستایل شوی او شأن ور په برخه کوي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمَ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الأَرْضُ وَلَا فَخْرَ، قَالَ: فَيَفْزَعُ النَّاسُ ثَلَاثَ فَزَعَاتٍ، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ أَبُونَا آدَمُ فَاشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، فَيَقُولُ: إِنِّي أَذْنَبْتُ ذَنْبًا أُهْبِطْتُ مِنْهُ إِلَى الأَرْضِ وَلَكِنْ ائْتُوا نُوحًا، فَيَأْتُونَ نُوحًا، فَيَقُولُ: إِنِّي دَعَوْتُ عَلَى أَهْلِ الأَرْضِ دَعْوَةً فَأُهْلِكُوا، وَلَكِنْ اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ: إِنِّي كَذَبْتُ

ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْهَا كَذِبَةٌ إِلَّا مَا حَلَّ بِهَا عَنْ دِينِ اللَّهِ. وَلَكِنْ ائْتُوا مُوسَى، فَيَأْتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُ: إِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا، وَلَكِنْ ائْتُوا عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى، فَيَقُولُ: إِنِّي عُبِدْتُ مِنْ دُونِ اللَّهِ، وَلَكِنْ ائْتُوا مُحَمَّدًا ، قَالَ: فَيَأْتُونَنِي فَأَنْطَلِقُ مَعَهُمْ - قَالَ ابْنُ جُدْعَانَ: قَالَ أَنَسٌ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: فَآخُذُ بِحَلْقَةِ بَابِ الجَنَّةِ فَأُقَعْقِعُهَا فَيُقَالُ: مَنْ هَذَا؟ فَيُقَالُ: مُحَمَّدٌ فَيَفْتَحُونَ لِي، وَيُرَحِّبُونَ بِي، فَيَقُولُونَ: مَرْحَبًا، فَأَخِرُّ سَاجِدًا، فَيُلْهِمُنِي اللَّهُ مِنَ الثَّنَاءِ وَالحَمْدِ، فَيُقَالُ لِي: ارْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، وَقُلْ يُسْمَعْ [ص:٣٠٩] لِقَوْلِكَ، وَهُوَ المَقَامُ المَحْمُودُ الَّذِي قَالَ اللَّهُ {عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا} [الإسراء: ٧٩] سنن الترمذي

ترجمه:- رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي زه به د قيامت په ورځ د آدم عليه السلام د اولاد سردار يم او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او زما په لاس کې به د حمد او ثنا بيرغ وي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او په دغه ورځ به آدم عليه السلام او د هغه نه علاوه چې څومره انبياء دي ټول به زما دبيرغ لاندې وي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او د قيامت په ورځ به اول ځمکه زما د خوانه وشلولی شي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او بيايې وفرمايل: چې دغه وخت کې به په خلکو درې ويرې تيرې شي او بعضې کسان به ووايې چې راځئ چې آدم عليه السلام ته ورشو نو ټول به آدم عليه السلام ته ورشي ورته وبه وايې ته ابو البشر يعنى د ټولو بنى آدمو پلار يې الله تعالى ته زمونږ شفاعت وکړه هغه به ورته ووايې زه يې د يو بوټي نه منع کړې وم ما نافرماني وکړه او د هغې په سبب زه ځمکې ته راکوز کړې شوی وم، تاسو نوح عليه السلام ته لاړشئ هغوی به نوح عليه السلام ته ورشي هغه به ورته ووايې: ما خپل قوم ته خيرې وکړې چې تباه شول، تاسو ابراهيم عليه السلام ته ورشئ ، هغوی به ابراهيم عليه السلام ته ورشي ، هغه به ورته ووايې: ما درې ځله دروغ ويلي دي، بيا رسول الله وفرمايل: هغه کوم حقيقي دروغ نه ؤ؛ بلکې دالله تعالى ددين حمايت کول يې مقصود ؤ؛ البته تاسو موسى عليه السلام ته ورشئ ، خلک به موسى عليه السلام ته ورشي هغه به ورته ووايې: ما يو داسې بنده قتل کړی دی چې د هغه د قتل کولو حکم راته نه ؤ شوی، تاسو عيسى عليه السلام ته لاړشئ ، خلک به عيسى عليه السلام ته ورشي، هغه به ورته ووايې، زما خو دالله تعالى نه علاوه بندګي شوی وه تاسو محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورشئ . په يو روايت کې دي خلک به ماته راشې او زه به ورسره روان شم. ابن جدعان راوي وايې چې انس رضي الله عنه وويل: ماته داسې ښکاري لکه چې اوس هم زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ګورم بيايې وفرمايل: زه به دجنت د دروازې ځنځير ونيسم او وبه يې کړنګوم آواز به وشي چې څوک دی؟ په جواب کې به ورته وويل شي . محمدصلى الله عليه وسلم دی. نو ماته به دروازه پرانيستلی شي او پخير راغلی به راته وويلی شي نو زه به په سجده پريوزم او الله تعالى به ماته په زړه کې د حمد ويلو طريقه واچوي کوم چې ددينه مخکې هيچاته نه ده ښودل شوی، بيا به راته حکم وشي ای رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پورته کړه غواړه چې څه غواړئ در کولی به شي او شفاعت وکړه منلی به شي او دا به هغه مقام محمود وي دکوم باره کې چې الله تعالى فرمايلي دي:{عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا}.

٢١- حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم پر ملائکو هم بهتره دی؛ ځکه چې خواص دمؤمنانو لکه پيغمبران بهتره دي پر خواصو د ملائکو باندې.علامه ملا على القاري رح په دې اړه ليکلي دي: (عوام المؤمنين أفضل من عوام الملائكة، وخواص المؤمنين أفضل من خواص الملائكة...ولا يخفى أن المراد بخواص المؤمنين الرسل والأنبياء، وبخواص الملائكة نحو جبريل وميكائيل وإسرافيل). مرقاة المفاتيح

ترجمه:- عوام دمؤمنانو بهتره دي د عوامو ملائکو څخه او خواص د مؤمنانو بهتره دي د ملائکو له خواصو څخه...او پته دې نه وي چې مراد دمؤمنانو د خواصو څخه رسولان او نبیان دي او د ملائکو له خواصو څخه مراد لکه جبرائیل ، میکائیل او اسرافیل علیهم السلام دی.

۲۲- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم خواته هغه ونه راغله چې نبي علیه السلام ورته اشاره وکړه چې راشه اوپر نبي علیه السلام یې سلام واچولو.(عَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِالْحَجُونِ فَرَدَّ عَلَيْهِ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ: «اللَّهُمَّ أَرِنِي آيَةً الْيَوْمَ لَا أُبَالِي مَنْ كَذَّبَنِي بَعْدَهَا» فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ ادْعُ شَجَرَةً، فَدَعَا شَجَرَةً فَأَقْبَلَتْ تَخُطُّ الْأَرْضَ حَتَّى انْتَهَتْ إِلَيْهِ فَسَلَّمَتْ عَلَيْهِ , ثُمَّ أَمَرَهَا فَرَجَعَتْ). مسند البزار

ترجمه:- د عمر رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی هغه فرمایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې ؤ او مشرکینو د هغه وینا رد کړه ، نبي علیه السلام وفرمایل ای ربه! ماته نن ورځ زما د حقانیت لپاره یوه نښه وښایه زه به هیڅ پروا نه کوم دهغه چاچې ما درواغجن بولي د هغې څخه وروسته. هغه (جبرائیل) راغی او ورته وویل شول یوې ونې ته آواز وکړه ، هغه یوې ونې ته آواز وکړ هغه ونه راغله چې ځمکه یې څیروله تر دې چې نبي علیه السلام ته راورسیده او پر نبي علیه السلام یې سلام واچولو بیا نبي علیه السلام ورته امر وکړ چې خپل ځای ته لاړه شه هغه خپل ځای ته ولاړه.

۲۳- الله تعالی او د هغه ملائکې پر محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم درود وایې چې دا د محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم د لوی شان ښکاره دلیل دی.

قاضي بیضاوي وایې: الله تعالی او د هغه ملائکې د محمد صلی الله علیه وسلم د شرف اهتمام کوي او دهغه شأن عظمت بیانوي تاسو هم د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د شرف اهتمام وکړئ او دهغه د شان تعظیم وکړئ.[ تفسیر البیضاوي]

همدا راز په دنیا کې بهترینه خاوره هغه ده چې د محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم جسد مبارک وربانډې پروت دی او ددغې ځمکې او خاورې بهتري د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له برکته دی.

ابن عابدین رحمه الله وایې: (فما ضم أعضاؤه الشریفة فهو أفضل بقاع الأرض بالإجماع) حاشیة ابن عابدین

دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم شأن د الله تعالی په وړاندې دومره لوی دی چې دهغه له برکته الله تعالی د حضرت عائشي رضي الله عنه صفایي د آسمان څخه راولیږله.

## د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم توهین او بې حرمتي کفر دی:

هرکله چې حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دومره لوی شان دی او الله تعالی ورته په دنیا او آخرت کې لوی عزت ورکړی دی بناءً په اسلامي شریعت کې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سپکاوی، توهین او بې حرمتي کفر او ارتداد ګرځول شوی دی.

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم درناوی فرض دی او سپکاوی یې کفر او ارتداد دی.

حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسول د منافقانو خصلت دی.الله تعالی فرمایلي دي: (وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ) التوبة: ٦١) ترجمه: او په دوی کې ځيني هغه کسان دي چې نبي(محمدصلی الله علیه وسلم) ته تکلیف رسوي او وایې:هغه (اوریدونکی) غوږ دی( دهرڅا هرڅه اوري او مني يې) ته ورته ووايه: تاسو لپاره دخير غوږ دی؛ پر الله ایمان لري او پر مؤمنانو باور کوي او پر تاسو کې د هغو کسانو لپاره رحمت دی چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې دالله رسول ته تکلیف رسوي؛ د هغو لپاره ډیر دردوونکی عذاب دی.

الله تعالی فرمایلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَاباً مُهِيناً) الاحزاب:(٥٧)

ترجمه:- بیشکه هغه کسان چې الله او د الله رسول ته تکلیف رسوي، الله په دوی لعنت کړی دی په دنیا او آخرت کې او ددوی لپاره یې سپکوونکی عذاب مقرر کړی دی.

نبي علیه السلام ته ضرر رسوونکې او د هغه ګستاخی کوونکی کس کافر او مرتد دی ځوک چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ضرر رسوي ، د هغوی په ذات او صفتونو کې څه عیب را وباسي ، که دا په ښکاره طریقې سره وي او یا په اشارې سره وي نو په دې سره دا سړې کافر او مرتد کیږي ، او په داسې کس باندې په دنیا او آخرت دواړو کې د الله تعالی لعنت را وریږي.

ټولو فقهاء کرامو په اتفاق سره دا خبره لیکلی چې د نبي علیه السلام په شان کې ګستاخي کول ، یا ( نعوذ بالله ) کنځل ورته کول ، یا تکذیب یې کول ، یا په کې عیبونه را ویستل کفر دی ، په دې سره دا انسان مرتد کیږي ، د اسلام نه خارجیږي ، او خپله ښځه وربانديې طلاقیږي . د داسې کس د پاره توبه ، تجدید د ایمان ، او تجدید دنکاح لازم دی ، ځکه که توبه او نه باسي او همداسې د توهین او سپکاوي کلمات وایي نو دا سړې مرتد دی ، او مرتد واجب القتل دی یعنی دا به د ارتداد په وجه قتلولې شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : (من سب نبیا فاقتلوه) .

د ګستاخ رسول په قتلولو باندې د ټولو ائمه و اتفاق او د ټول امت اجماع ده؛ بلکې د ټول امت مسلمه په دې باندې اجماع ده چې ځوک نبي علیه السلام ته کنځل وکړي یا ددوی په شان کې بله څه ګستاخي وکړي نو که دا مسلمان وي خو بیا هم داسې کس مرتد دی ، دده قتلول واجب دي.

حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د هغو کسانو د وژلو حکم کړی دی چې د نبي علیه السلام په باره کې به یې ګستاخي کوله چې د هغې له جملې څخه ابو رافع یهودي ؤ.

نبي علیه السلام د ابو رافع یهودي د وژلو د پاره صحابه کرام و ر ولیږل ابو رافع یهودي به هم نبي علیه السلام ته ضرر رسول ، او د دوی په شان کې به یې ګستاخی کوله ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دده د قتلولو د پاره د حضرت عبد الله بن عتیک رضي الله عنه په مشرۍ کې صحابه کرام و رولیږل او هغه یې په خپل کور کې قتل کړو.

د ابورافع یهودي واقعه په بخاري شریف کې په تفصیل سره ذکرده :(عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم-إِلَى أَبِي رَافِعٍ الْيَهُودِيِّ رِجَالاً مِنَ الأَنْصَارِ فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَتِيكٍ وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- وَيُعِينُ عَلَيْهِ وَكَانَ فِي حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لأَصْحَابِهِ اجْلِسُوا مَكَانَكُمْ فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ لَعَلِّي أَنْ أَدْخُلَ فَأَقْبَلَ حَتَّى دَنَا مِنَ الْبَابِ ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهِ كَأَنَّهُ يَقْضِي حَاجَةً وَقَدْ دَخَلَ النَّاسُ فَهَتَفَ بِهِ الْبَوَّابُ يَا عَبْدَ اللهِ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ أَغْلَقَ الْبَابَ ثُمَّ عَلَّقَ الأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ (وَدٍّ) قَالَ فَقُمْتُ إِلَى الأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا فَفَتَحْتُ الْبَابَ وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ وَكَانَ فِي عَلاَلِيَّ لَهُ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ أَهْلُ سَمَرِهِ صَعِدْتُ إِلَيْهِ فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا أَغْلَقْتُ عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ قُلْتُ إِنِ الْقَوْمُ نَذِرُوا بِي لَمْ يَخْلُصُوا إِلَيَّ حَتَّى أَقْتُلَهُ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهِ لاَ أَدْرِي أَيْنَ هُوَ مِنَ الْبَيْتِ فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ هَذَا فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَأَنَا دَهِشٌ (دَاهِشٌ) فَمَا أَغْنَيْتُ شَيْئًا وَصَاحَ فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ فَأَمْكُثُ غَيْرَ

بَعِيدٍ ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ مَا هَذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ فَقَالَ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ قَالَ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أَثْخَنَتْهُ وَلَمْ أَقْتُلْهُ ثُمَّ وَضَعْتُ ظُبَةَ السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ بَابًا بَابًا حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ لَهُ فَوَضَعْتُ رِجْلِي وَأَنَا أُرَى (أَرَى) أَنِّي قَدِ انْتَهَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ فَقُلْتُ لَا أَخْرُجُ (أَبْرَحُ) اللَّيْلَةَ حَتَّى أَعْلَمَ أَقَتَلْتُهُ فَلَمَّا صَاحَ الدِّيكُ قَامَ النَّاعِي عَلَى السُّورِ فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي فَقُلْتُ النَّجَاءَ فَقَدْ قَتَلَ اللهُ أَبَا رَافِعٍ فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ ؟ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ ابْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا (فَكَأَنَّمَا) لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ.) صحيح البخاري

ترجمه:- حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ابو رافع يهودي د وژلو د پاره د انصارو څخه صحابه کرام و روليږل ، او په دوی باندې يې حضرت عبد الله بن عتيک امير مقرر کړو :

ابورافع به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ضرر رسولو ، او د نبي عليه السلام خلاف د دوی دشمنانو سره به يې مدد کولو . په حجاز کې د ابورافع يهودي قلعه وه، کله چې داصحابه کرام هغه قلعې ته و رورسيدل؛ نو په دې وخت کې لمر ډوب شو او خلقو خپل څاروي کورونو ته واپس بوتلل. حضرت عبد الله بن عتيک خپلو ملګرو ته وويل : تاسو په دې خپلو ځايونو کې کينئ زه قلعې ته ورځم ، د قلعه پهره دار (دربانچی) سره څه نرمي کوم ، اميد دی چې قلعه ته ورداخل شم. نو عبد الله بن عتيک قلعې طرف ته ورغی، هلته د دروازې سره نزدې يې ځان په جامه باندې داسې پټ کړ لکه چې هغه قضای حاجت کوي په دې وخت کې ټول خلق قلعې ته داخل شو(فَهَتَفَ بِهِ الْبَوَّابُ يَا عَبْدَ اللهِ إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ) پهره دار ده ته آواز وکړ( په ده باندې هم دا ګمان و کړو چې ګوندې د هغوی د جملې څخه دی)اې د الله بنده ! که چيرته قلعه ته د داخليدو اراده لرې نو را داخل شه ځکه زه د قلعې دروازه بندوم.

(عبد الله بن عتيک فرمايي چې زه هم قلعې ته داخل شوم او په پټه مې ددې پهره دار نقل و حرکت څارلو چې دا د دروازې کيلي چيرته ږدي ؟ پس کله چې ټول خلق قلعې ته را داخل شو) نو ده دروازه بنده کړه ، او چابيانې يې په يو ميخ کې را زوړندې کړې (او هغه لاړ). عبد الله بن عتيک فرمايي چې زه را پاڅيدم ، چابيانې مې را واخيستې ، او دروازه مې وربandې خلاصه کړه . ابورافع سره خلک ناست وو او د شپې يې ورته قيصې بيانولې، او هغه خاص بالاخانه کې ؤ ، کله چې دده نه دغه قصه ګويان خلک لاړل( او د هغه کمرې ته چې څومره دروازې وې پهره دار هغه د بهر نه ورپسې قلف کړې) نو زه پاس بالا خانې ته وروختم ( چونکه چابيانې ټولې د ما سره وې ) ما به هره دروازه په چابي باندې برسيره کوله او بيا به مې هغه دروازه د ځان پسې د دننه طرف نه قلف کوله ،ددې د پاره چې که ددې قلعې واله خلک زمانه څخه خبر هم شي، نو ماته به تر هغې وخته پورې نشي رارسيدلی تر څو پورې چې ما دا قتل کړې نه وي . پس زه هغه ته وررورسيدم ، نو هغه په يوه توره تياره کمره کې د خپل کور خلکو په مينځ کې ويده ؤ ، ماته دا پته نه وه چې هغه چيرته پروت دی ؟ نو ما ورته آواز وکړو : (فَقُلْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ هَذَا فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ) هغه وويل : دا څوک دی ؟ نو زه د هغه آواز په طرف ورغلم او په هغه مې د تورې يو ګوزار وکړو . په دې وخت کې زه په ويره کې شوم ، دغه وجه وه چې ما د هغه کار خلاص نه کړې شو . په دې وخت کې ابورافع چغې کړې ، نو زه د هغه کمرې نه بهر را ووتم ، او د لږ وخت د پاره د کمرې نه بهر ولاړ ووم ، بيا دوباره کمرې ته ورننوتم او ( د هغه د معلوملو د پاره مې) هغه ته آواز اوکړو : ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ مَا هَذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ فَقَالَ لِأُمِّكَ الْوَيْلُ إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ قَالَ) اې ابورافع ! دا آواز د څه شي ؤ ؟؛ نو هغه وويل : ستا مور هلاکه شه په دې کمره کې څوک سړې دی لږ ساعت مخکې يې زه په توره باندې ووهلم . عبدالله بن عتيک فرمايي چې ما ( د هغه ځای معلوم کړو نوما ) دوباره په هغه باندې د تورې تيز ګوزار وکړو ، ډير مې زخمي کړو خو تر اوسه مې قتل کړې نه ؤ ، نو د تورې تيره سر مې د هغه په ځيټه کې ننويست تر دې چې توره د هغه د ملا هډوکي ته ورسيده ،

پس زه پوهه شوم چې ما هغه قتل کړ . پس ما هغه دروازې يوه يوه برسيره کوله او بهر راروان ووم ، په آخر کې يوې آندرپائې ته ورسيدم ، ما گمان وکړچې گوندې زه زمکې ته ورسيدم ( حالانکه تر اوسه زه پورته ووم ) نو ما چې په دې باندې خپه کيښوده نو ښکته ولويدم د سپوږمۍ شپه وه ( يعنی سپوږمۍ راختلې وه ) نو زما پښه په پنډۍ کې ماته شوه ، پس ما دا په خپل پټگي باندې وتړله او راروان ووم تر دې چې د قلعې دروازې سره کيناستم ، ما د ځان سره وويل چې زه به نن شپه ترهغې وخته پورې ددې ځای نه نه وزم تردې چې دا ماته په يقين سره معلومه شي چې آيا ما ابورافع قتل کړې دی او که نه ؟ کله چې سهار چرگ آذان وکړو نو په دې وخت کې يو کس د قلعې په ديوال باندې ودريد او دا اعلان يې وکړ : (فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ) د حجاز تاجر " ابورافع " د مرگ اعلان کوم. عبدالله بن عتيک رضي الله عنه فرمايي : پس زه خپلو ملگرو ته راغلم او هغوی ته مې وويل : اوس جلدي وکړئ الله تعالی ابورافع ووژلو . پس مونږ نبي عليه السلام ته را ورسيدو او هغه ته مو دا واقعه بيان کړه نبي عليه السلام راته وويل: خپله خپه وغزوه . پس ما خپله خپه وغزوله، نبي عليه السلام خپل لاس مبارک ورباندې راښکلو؛ نو ددې په برکت باندې دا داسې روغه شوه گويا چې ما ددې پښې څخه هيڅ شکايت نه درلود(ه ددې په درد باندې د سره پوهه شوې نه يم او په دې کې د سره زخم راغلی ندی) .

همدا راز حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ابن خطل چې د نبی عليه السلام سپکاوی او هجوه به يې کوله دهغه د وژلو حکم وکړ.ابن خطل د خانه کعبې پرده نيولې وه خو نبي عليه السلام بيا هم د هغه د قتلولو حکم ورکړو. په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا واقعه ذکر ده چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د فتحې مکې په وخت مکې معظمې ته را داخل شو نو په سر مبارک باندې يې جنگي ټوپۍ وه ، کله يې چې دا لرې کړه نو په دې وخت کې ورته يو کس راغی ، او دا اطلاع يې ورته ورکړه :(إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٍ بِأَسْتَارِ الكَعْبَةِ) . پيشکه ابن خطل د خانه کعبې پردې پورې زوړند دي .يعنی د ځان خلاصولو د پاره يې د خانه کعبې پرده نيولې ده. نبي عليه السلام ورته او فرمايل : (أقتلوه) .وه يې وژنئ ؛نو صحابه کرامو هغه ووژلو.

علماؤ ليکلي چې نبي عليه السلام ابن خطل لره د يو څو وجوهاتو په وجه قتل کړو : يو دا چې هغه د اسلام نه مرتد شوې و او يو مسلمان يې شهيد کړې و ، دويم دا چې ده به د نبي عليه السلام هجوه بيانوله او دوی پسې به يې کنځلې کولی . همدارنگه دده دوه وينځې وی هغوی به په خپلو سندرو کې د نبي عليه السلام او نورو مسلمانانو هجوه بيانوله، پيغمبر عليه السلام د مخکې نه دده د وژلو حکم ورکړې ؤ ، اگر چې ده د خانه کعبې پردې نيولې وی خو جُرم يې ډير غټ و نو ځکه نبي عليه السلام دده د قتلولو حکم و کړو .

څوک چې حرم ته داخل شي هغه ته آمن وي خو دمکې د فتحې په وخت نبي عليه السلام ته د لږ وخت د پاره اجازت شوې ؤ نو په دې وخت کې يې د ابن خطل د وژلو حکم وکړو .

امام قاضي عياض رحمه الله په الشفاء کې ليکلي دي: (أجمعت الأمة على قتل متنقصه من المسلمين وسابه).

ترجمه:- د رسول الله صلی الله عليه وسلم د عيب بيانونکي په وژلو باندې ټول امت اجماع کړی ده او پيغمبر عليه السلام ته دکنځل کوونکي په باره کې هم دغه فيصله ده.
وقال أبو بكر بن المنذر: أجمع عوام أهل العلم على أن على من سب النبي صلى الله عليه وسلم القتل، وممن قال ذلك مالك بن أنس، والليث، وأحمد، وإسحاق، وهو مذهب الشافعي، وبمثله قال أبو حنيفة وأصحابه، والثوري وأهل الكوفة، والأوزاعي، في المسلم.[الشفاء]
ترجمه:- ابوبکر ابن المنذر وايي: څوک چې نبي عليه السلام ته کنځل وکړي؛ ټولو اهل علمو د هغه په وژلو اجماع کړی ده.

او هغه چاچې دا وینا کړی ده هغه امام مالک بن انس دی، لیث ابن سعد دی، احمد دی اسحاق دی او دا د امام شافعي مذهب دی او همدا خبره د امام ابوحنیفه او د هغه داصحابو ده او دا دثوری ، اوزاعی خبره هم ده په حق د مسلمان کې.(یعنې که چیرې کنځل کوونکی مسلمان وي).
وقال محمد بن سحنون: أجمع العلماء أن شاتم النبي عليه السلام المتنقص له كافر، والوعيد جار عليه بعذاب الله، وحكمه عند الأمة القتل، ومن شك في كفره وعذابه كفر .[السيف المسلول للسبكي]
ترجمه:- امام محمد بن سحنون مالکي وايي: ټولو علماوو په دې اجماع کړی ده چې څوک نبي عليه السلام ته کنځل کوي او دهغه د شان نقصان بيان کړي هغه کافر دی او دالله تعالی وعيد په هغه باندې جاري دی چې دالله تعالی عذاب دی او دداسې شخص حکم د امت په نزد قتل دی او څوک چې د هغه شخص په کفر او عذاب کې شک کوي هغه هم کافر دی.
قال مالك: من شتم النبي صلى الله عليه وسلم من اليهود والنصارى قتل إلا أن يسلم، وكذا قال أحمد، وقال الشافعي: يقتل الذمي إذا سب النبي صلى الله عليه وسلم وتبرأ منه الذمة.[ السيف المسلول]
امام مالک رحمه الله فرمايي: څوک چې د يهودانو او نصرانيانو څخه نبي عليه السلام ته کنځل وکړي هغه به وژل کيږي ؛ مګر داچې اسلام راوړي، همداسې خبره امام احمد هم کړی ده او امام شافعي رحمه الله وايي: هغه ذمي به وژل کيږي کله چې نبي عليه السلام ته کنځل وکړي او د ذمي توب حکم به ورڅخه اخيستل کيږي.
قال ابن عابدين: (أقول ورأيت في كتاب الخراج لأبي يوسف ما نصه وأيما رجل مسلم سب رسول الله أو كذبه أو عابه أو تنقصه فقد كفر بالله تعالى وبانت منه امرأته فإن تاب وإلا قتل). [حاشية ابن عابدين]
امام ابن عابدين رحمه الله وايي: زه وايم چې ما په کتاب الخراج دامام ابويوسف کې ليدلي دي چې په کې داسې ليکل شوي دي: هرمسلمان چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته کنځل وکړي او يا د هغه تکذيب وکړي او يا يې عيب بيان کړي او يا يې په حق کې نقصان ولټوي ؛ بيشکه داسې شخص په الله تعالی کافر شو او ښځه ورڅخه جدا شوه که توبه يې ويستله ښه ده که نه نو ودې وژل شي.[حاشيه ابن عابدين]